## د تړون د ورکولو دپرېکړې خبرتیا

**موضوع**: د گراند تکنالوژي ریسورز اس دی ان پی اچ دی GTR تجارتی شرکت ته د تړون د ورکولو دپرېکړې خبرتیا!

د تدارکاتو قانون د دريِ څلوېښتمې مادې د دویمې فقرې سره سم، له دې لارې ټولو ته خبر ورکول کېږي، د افغانستان بانک د معلوماتي ټکنالوژ لوی آمریت لپاره د مرکزي یخولو سیستم، د اور وژنې سیستم، د ذخیره کولو او ساتنې خدماتو د تدارک او چمتوکولو پروژه د ( DAB/1402/NCB/NCS06) تشخیصیه شمیر لرونکی د گراند تکنالوژی ریسورز اس دی ان پی اچ دی GTR شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د (D-26650) شمېرې جواز لرونکی او اصلي استوگنه یی کابل ولایت ، 407 خونه د کابل بزنس سنتر د شهر نو حاجی یعقوب څلورلاری لسمه ناحیه کابل کې دی. د تړون ټولیزه بیه (1,462,000 ) یو میلیون او څلور سوه دو شپی ته زره افغانی ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نیوکه په لیکلې بڼه د لاملونو په ذکر کولو سره د اعلان د خپریدو له نېټې تر اوو تقویمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د تړون د عقد کولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړیدو به تړون نه عقد کیږی.